مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۸۹** (از ۱۸ الی ۲۵ جدی ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................................................................ ۲

**د افغانستان په اړه د ډونالډ ټرمپ تګلاره ................................... ۳**

د امریکا د تېرو حکومتونو تګلارې .................................................... ۴

د افغانستان په اړه د ټرمپ اټکلي سیاست ........................................ ۴

افغانستان؛ د ډونالډ ټرمپ د پاملرنې وړ ........................................... ۵

د امریکا نوي ولسمشر ته څه کول په‌کار دي؟ .................................... ٦

**گزارش تحقیقی «افغانستان در یک‌ونیم دههٔ گذشته» نشر می‌گردد ................. ۷**

**«افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې» څېړنیز راپور خپرېږي ........................ ۹**

## مقدمه

څو ورځې وروسته (د جنورۍ په ۲۰مه) به ډونالډ ټرمپ سپینې ماڼۍ ته ننوځي او د امریکا د نوي ولسمشر په توګه به لوړه وکړي. په افغانستان کې د امریکا اوږده بهرنۍ جګړه به هم د ټرمپ د بهرني سیاست یوه مهمه دوسیه وي.

په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت وضعیت له امنیتي، سیاسي او اقتصادي پلوه ښه نه دی او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کېري چې دغه حکومت د ده په منځګړیتوب رامنځته شوی، تېره اوونۍ د دغه حکومت له جوړښت څخه دفاع وکړه او ترڅنګ یې هلمند ته د ۳۰۰ امریکایي سمندري سرتېرو د تګ خبر هم خپور شو.

ډونالډ ټرمپ د سیاست د ډګر نوی لوبغاړی دی او ډېره تجربه په اقتصادي کاروبار کې لري، خو د ټاکنیز کمپاین پر مهال یې د بېلابېلو قضایاو په تړاو توند نظریات درلودل او له همدې کبله افغانان هم د ټرمپ له واک ته رسېدو سره د افغانستان د قضیې په اړه د امریکا په چلند کې د بدلون په تمه دي. دا چې د افغانستان په تړاو به د امریکا د نوي ولسمشر اټکلي تګلاره څه وي؟ او ډونالډ ټرمپ ته څه کول په‌کار دي؟ د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې یې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د څانګې شننه لولئ.

د تحلیل په وروستۍ برخه کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له‌خوا د «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې» چمتو شوي څېړنیز راپور د خپراوي د غونډې اعلان لولئ.

# د افغانستان په اړه د ډونالډ ټرمپ تګلاره




تېره اوونۍ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال ′توماس شنن′ افغانستان ته په یوه رسمي سفر راغی او له افغان ولسمشر اشرف غني، اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله، د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزي او نورو جګپوړو چارواکو سره یې ولیدل. دا افغانستان ته د ډېموکراتانو لهخوا د دوی د ۸ کلنې دورې وروستی سفر و؛ ځکه د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ په ۲۰مه به د جمهوريغوښتونکو ګوند نوماند ډونالډ ټرمپ د امریکا د نوي ولسمشر په توګه لوړه وکړي.

له امریکا څخه د راغلي پلاوي موخه له افغانستان سره د امریکا د نوې ادارې د اړیکو او همکاریو په تړاو د ډاډ ورکړه وه. نوموړي وویل: «له افغانستان سره زموږ ژمنې د جنورۍ په شلمه پای ته نه رسېږي، بلکې دا اړیکې به لا پراخې او ژورې شي؛ د دغو اړیکو ستراتیژیک ارزښت ټولو ته ځرګند دی او هغه ستر فرصتونه او امکانات چې دلته شته، په افغانستان کې زموږ د ښکېلتیا ځرګندوی دي.»

دا چې په افغانستان کې د تېرو امریکایي حکومتونو تګلاره څه ډول وه، د افغانستان په تړاو به د ټاکل شوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ بهرنۍ سیاست څه وي، د افغانستان اوسنۍ وضعیت څرنګه دی او د امریکا نوي ولسمشر ته په اسلامي نړۍ او په تېره بیا افغانستان کې څه کول پهکار دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

## د امریکا د تېرو حکومتونو تګلارې

په وروستیو ۱۵ کلونو کې په افغانستان کې د امریکا تګلاره په دوو برخو وېشل شوې وه: **لومړۍ** برخه د جمهوري‌غوښتونکي جیورج ډبلیو بُش تر واکمنۍ لاندې تګلاره وه او **دویمه** بیا د دېموکرات بارک اوباما د دورې تګلاره وه. په لومړۍ دوره کې د افغانستان او امریکا ترمنځ اړیکې تودې او نږدې وې. د امریکایانو بنسټیزه تګلاره دا وه، چې د طالبانو نظام ړنګ کړي او پرځای یې یو نوی حکومت رامنځته شي. همداسې وشول؛ د طالبانو نظام ړنګ شو او پرځای یې د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې نوی حکومت جوړ شو، چې نړیوالې ټولنې په تېره بیا امریکا ترې ملاتړ او په پراخه کچه یې ورسره مرستې وکړې. خو کله چې په هېواد کې طالبانو بیاځلې جګړه پیل کړه او دا جګړه کال په کال د تودېدلو په لور ولاړه، نو د امریکایانو تګلاره تر ډېره پر روانه جګړه راوڅرخېده او تراوسه هم پرې متکې ده.

د بارک اوباما په دوره کې د حامد کرزي او امریکا ترمنځ اړیکې خرابې شوې او همدا لامل و، چې د امریکا تګلاره هم تر ډېره متذبذبه شوه، یو مهال به د سرتېرو د زیاتېدو پریکړه وشوه، بل ځل به بیا د امریکایي سرتېرو د وتلو.

کله چې د ملي یووالي حکومت جوړ شو، د امریکا او افغان حکومت ترمنځ اړیکې بیا ورغېدې. له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک شو، دوی ته د شپنیو عملیاتو اجازه ورکړل شوه او تر ډېره د امریکایانو پر هغو بریدونو هم، چې ملکي کسان او امنیتي ځواکونه پکې په نښه شول، چوپتیا غوره شوه. همدا لامل و، چې بارک اوباما د افغان حکومت په خوښه له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پروسه هم وځنډوله.

## د افغانستان په اړه د ټرمپ اټکلي سیاست

د امریکا د ۲۰۱۶ کال د ولسمشریزو ټاکنو پرمهال بهرنی سیاست او په تېره بیا د افغانستان په اړه ډېر جدي بحثونه ونه شول، حتی افغانستان تر ډېره د دغو بحثونو برخه نه و. یو لامل هم دا و، چې دغه جګړه جمهوري‌غوښتونکو پیل کړې وه او وروسته د دیموکراتانو په دوو دورو کې هم حل نه شوه، نو ځکه دواړو لوریو هڅه وکړه، چې دغه موضوع ډېره ونه څېړي.

دغه راز ډونالډ ټرمپ هم په سیاست او په تېره بیا بهرني سیاست کې ډېره تجربه نه لري. د افغانستان په اړه یې ډېر څه نه دي ویلي؛ خو که څه یې ویلي هم وي، په ښکاره ډول ترې څرګنده ده چې معلومات او څرګندونې

يې دېرې ضد او نقيض دي. ټرمپ په ۲۰۱۲ کال کې ويلي وو، چې له افغانستانه به ټول سرتېري وباسي. په ۲۰۱۳ کال کې چې کله په افغانستان کې د ملي اردو د ځينو سرتېرو لهخوا بهرني سرتېري ووژل شول، ټرمپ يې وپاراوه او ويې ويل: «راځئ چې له افغانستانه ووځو، زموږ سرتېري د هغو افغانانو له لوري وژل کېږي، چې موږ روزلي دي. موږ هلته ملياردونه ډالر ضايع کړل، دا د منلو وړ نه ده». وروسته بيا ټرمپ خپل دغه نظر بدل کړ او په افغانستان کې د امريکا د ۹۸۰۰ سرتېرو د پاتې کېدو غوښتونکی شو؛ ځکه د ده په اند په افغانستان کې شتون د پاکستان لپاره هم اړين دی. په ۲۰۱۵ کال کې يې دا هم وويل، چې په افغانستان کې د امريکا روانه جګړه تېروتنه نه وه. د دې ترڅنګ ډونلډ ټرمپ يوځل دا هم ويلي وو، چې د امريکا په ځينو ښارونو کې امنيتي وضعيت دومره بوږنوونکی دی، چې د افغانستان امنيت هم پرې ښه دی. د ډونالډ ټرمپ د بېتجربهګی او د ده د ضد او نقيض څرګندونو له کبله ده، چې دی يې غير اټکلي ګرځولی دی.

همدا لامل دی، چې د افغانستان په تړاو به د ډونلډ ټرمپ دېرې تګلاره د ده له ولسمشر کېدو وروسته معلومه شي؛ خو بيا هم شته معلوماتو ته په کتلو سره داسې انګېرل کېږي، چې په افغانستان کې به د امريکايي سرتېرو د وتلو پروګرام او د پوځي اډو تګلاره د بارک اوباما د وروستي کال د تګلارې په څېر وي. بيا به هم افغان حکومت ته، چې د ډيموکراتانو د بهرنيو چارو وزير جان کېري په منځګړتوب جوړ شوی، لويه ننګونه له ډونالډ ټرمپ سره د اړيکو ساتنه او د خپلو داخلي اختلافاتو پرمهال له ده څخه د مخالفتونو د ختمولو غوښتنه کول وي.

## افغانستان؛ د ډونالډ ټرمپ د پاملرنې وړ

که څه هم په نړيواله کچه د منځني ختيځ وضعيت او له روسيې سره د امريکا اړيکې به هغه څه وي، چې د ډونالډ ټرمپ بهرنی سياست به اغېزمن کړي؛ خو د افغانستان اوسنی وضعيت به هم د امريکا د نوي ولسمشر لپاره د پاملرنې وړ وي. هغه هم داسې مهال چې امنيتي وضعيت پکې د بل هر وخت په پرتله خراب شوی، امنيتي پېښې، چاودنې، تلفات او د ولسواليو سقوطونه زيات شوي، د سولې پروسه له بنبست سره مخ شوې، اقتصادي وضعيت هم خراب دی (که څه هم د اقتصادي ارقامو له مخې د ۱۳۹۴ کال په پرتله اقتصادي وضعيت لږ ښه شوی دی)، په اداري فساد کې هم د يوې سروې له مخې د ۲۰۱۴ کال په پرتله په ۲۰۱٦ کې زيات رشوت ورکړل شوی. ځکه نو د امريکا نوی ولسمشر به دغه حالت په دقت سره وڅاري او راتلونکې پريکړې به يې د همدغه وضعيت تر اغېزو لاندې وي.


## د امریکا نوي ولسمشر ته څه کول په‌کار دي؟

ډونالډ ټرمپ داسې مهال د امریکا ولسمشر کېږي، چې په اسلامي نړۍ کې هر لوری تاوتریخوالی او کړنۍ جګړې دي، چې تر شا یې تر ډېره د امریکا تګلارې مقصرې ګڼل کېږي. په شمالي افریقا، د خلیج هېوادونو، سوېلي اسیا او په ټوله کې په منځني ختیځ کې حالات ترېینګلي دي. د همدغو حالاتو له کبله ده، چې د یوویشتمې پېړۍ ۲۰۱٦ کال د اسلامي نړۍ لپاره تر ټولو خونړی کال شو. همدې ټکي ته په کتلو سره امریکا باید په اسلامي نړۍ کې د خلکو له حکومتونو ملاتړ وکړي، نه له مستبدو او کودتایي حکومتونو.

دغه راز په اسلامي نړۍ کې یو شمېر مفکورې او نظریې داسې هم دي، چې په اسلامي نړۍ کې د یو شمېر جنګي ډلو تر شا د امریکا لاس دی؛ ځکه د دوی په اند امریکا غواړي، چې خپلو موخو ته د دغو جنګي ډلو له لارې ورسېږي. همدا راز د امریکا تګلارو په اسلامي نړۍ کې توندلارۍ ته هم لاره هواره کړې. په بل اړخ کې په افغانستان کې جګړه له تېرو پنځلسو کلونو راهیسې راروانه ده او دلته یو شمېر خلک په دې اند دي، چې امریکا په افغانستان او سیمه کې د جګړې دوام غواړي؛ ځکه په سیمه کې روانه جګړه به د دوی ګټې خوندي کړي. له همدې امله اوس په سیمه کې د داعش د راپورته کېدا تر شا هم امریکا ته ګوته نیول کېږي او داسې انګېرل کېږي چې امریکا چین او روسیې ته له دغې لارې سرخوږی جوړول غواړي. دغو نکاتو ته په کتلو سره د امریکا نوی حکومت نه یوازې دا چې د دغو اتهاماتو د ورکولو پالیسي غوره کړي، بلکې خپلې تګلارې هم داسې جوړې کړي، چې په اسلامي نړۍ کې د توندلارۍ غبرګونیزو چلندونو ته هم د پای ټکی کېږدي.

همدا راز د امریکا نوی ولسمشر باید په افغانستان کې د سولې له بهیر سره یوځای او ترې ملاتړ وکړي او دا چې د افغانستان جګړه امریکا پیل کړې، اوس د یوه ضمانت کوونکي په توګه رول ولوبوي او دغه جګړه نوره پای ته ورسوي. ځکه په افغانستان کې سوله نه یوازې د افغانانو بلکې د امریکا او ټولې نړۍ په ګټه ده.

## گزارش تحقیقی «افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته» نشر می‌گردد




قرار است گزارش تحقیقی – تحلیلی «افغانستان در یک‌ونیم دهۀ گذشته» به روز سه‌شنبه (17 جنوری) طی یک نشست در هوتل انترکانتیننتل شهر کابل رسما منتشر گردد.

این گزارش که از سوی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی (CSRS) در حدود 400 صفحه تهیه شده، وضعیت سکتورهای مهم کشور در 15 سال گذشته را مورد بررسی همه‌جانبه قرار داده است.


این گزارش به صورت واقعبینانه و بی‌طرفانه در مورد عرصه‌های صلح، سیاست خارجی، فساد اداری، مهاجرین و بی‌جاشده‌گان داخلی، اقتصاد (اقتصاد ملی، تجارت، انرژی، صنعت و زراعت)، امنیت و جرایم، معارف و تحصیلات عالی تهیه گردیده است. این گزارش حاوی پیشینۀ سکتورهای مذکور، وضعیت این سکتورها پس از سال 1380 هـ ش، و تمرکز بیشتر روی سال 1394 هـ ش می‌باشد.

در کنار پیشرفت‌ها، ناکامی‌ها، مشکلات و چالش‌های عرصه‌های مذکور، پیشنهادات مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد آن نیز در این گزارش ارائه گردیده است.

گفتنی است که این گزارش بربنیاد هر دو میتود کمی و کیفی توسط محققان مرکز تهیه شده و یافته‌های سروی که در شهرهای بزرگ کشور توسط مرکز انجام یافته، نیز در آن گنجانیده شده است.

هرچند نهادهای مختلف ملی و بین‌المللی همه‌ساله در مورد وضعیت افغانستان گزارش‌ها و سروی‌ها را به نشر می‌رسانند، ولی ویژه‌گی این گزارش در مشمول بودن آن به سکتورهای متعدد و 15 سال گذشته نهفته است. باید یادآور شد که این گزارش با در نظرداشت ضرورت بیان حقائق اوضاع کشور، بدون تحریف و با تکیه بر امکانات داخلی مرکز تهیه گردیده و از همین‌رو با تحقیقات پروژه‌ای متفاوت می‌باشد.

## «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې» څېړنیز راپور خپرېږي




ټاکل شوې «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې» څېړنیز او تحلیلي راپور راتلونکې سه‌شنبه (د جنوري ۱۷مه) د کابل ښار په انټرکانټیننټل هوټل کې، د یوې غونډې له لارې رسما خپور شي.

دغه راپور، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز (CSRS) له‌خوا په شاوخوا ۴۰۰ مخونو کې چمتو شوی، په تېرو ۱۵ کلونو کې د هېواد د مهمو سکتورونو وضعیت په هراړخیز ډول څېړلی دی.

دا راپور د سولې، بهرني سیاست، اداري فساد، کډوالو، اقتصاد (ملي اقتصاد، سوداګرۍ، انرژۍ، صنعت، کرنې او مالدارۍ)، امنیت او جرمونو، ښوونې او روزنې او لوړو زده‌کړو برخو په اړه په واقعبینانه او بې‌طرفانه ډول چمتو شوی دی. په راپور کې د یادو شوو سکتورنو مخینه او له ۱۳۸۰ لمریز کال وروسته یې وضعیت څېړل شوی او پر ۱۳۹۴ لمریز کال زیات تمرکز شوی دی.

په راپور کې د دغو سکتورونو د پرمختګونو، ناکامیو، ستونزو او ننګونو ترڅنګ، د هرې برخې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز وړاندیزونه او سپارښتنې هم وړاندې شوې دي.

د یادونې وړ ده، چې دغه راپور د دواړو کمي او کیفي څېړندودونو له مخې د مرکز د څېړونکو لهخوا چمتو شوی او د هغې سروې موندنې، چې د هېواد په لویو ښارونو کې د مرکز لهخوا شوې، هم پکې ځای پر ځای شوې دي.

که څه هم بېلابېلې ملي او نړیوالې اداري د افغانستان د وضعیت په اړه هر کال کلني راپورونه او سروې‌گانې خپروي؛ خو د دغه راپور ځانګړنه څو مهمو سکتورونو او تېرو ۱۵ کلونو ته په شاملېدو کې نغښتې ده. باید ووایو، چې دا راپور د هېواد د اوسني وضعیت د حقایقو د بیان اړتیا ته په پام سره، له تحریف پرته او د مرکز پر داخلي امکاناتو چمتو شوی، چې له همدې کبله له پروژه‌اي څېړنو سره توپیر لري.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.